# هیپاتیت A



- A هیپاتیت یک ډول ویروس دی چی د اوبه او خواړه د لاری ښخه انسان ته انتقال پیدا کوی.
- که یو نفر د A هیپاتیت ولری، هغه کولای شی چی نور کسان هم پدی ناروغی اخته کړی.
- د واکسین تطبیق کول تر ټولو نه بهتره وقایه ده.



## A هیپاتیت د ځګر د التهاب سبب کیږی

یو نفر چی په A هیپاتیت اخته کیږی، کیدای شی چی هغه ته د نس درد، تبه او اسهال هم پیدا شی. په مجموعی ډول، سړی د ناروغی او ستړیا احساس کوی. امکان لری چی یو شمیر ناروغان هم په زیړی اخته شی. په بل عبارت د هغوی د پوستکی رنګ او د سترګی صلبیه (سپینه برخه) ږ‌ږ شی.



## دا واکسین د دغی ناروغی مخنیوی کوی

دا واکسین معمولاً د ماشوم د یو کلنی په عمر کی ورته تطبیق کیږی. لمړنی تزریق ماشوم ته د یو کال دپاره مصونیت ورکوی. د دغی واکسین د دوم ځل تطبیق کول سړی ته لږ تر لږه د ۲۰ کالو دپاره مصونیت ورکوی.

## A هیپاتیت د نړی په ډیرو ځایونو کی معمول دی

د دغی واکسین تطبیق کول ټولو هغو کسانو ته سپاربښت کیږی چی هغو ځایونو ته سفر کوی چی هلته د A هیپاتیت ناروغی په یو عادی ډول پیدا کیږی.
تاسی کولای شی چی په اکثرو روغتیایی کلینیکونو (vårdcentral) کی یا د واکسیناسیون په یو کلینیک (Vaccinationsmottagning) کی دا واکسین تزریق کړی.




د A هیپاتیت د خطر د موجودیت ځایونه
منبع: د روغتیا نړیوال سازمان